ماشومانو دَ پاره نظمونه او اړونه/ دوني

# نظمونه او اړونه

تصنیف

مولانا احمدعلی مرداني

ساکن یونیورستي روډ خوره بانډه مردان

ناشر

اسلامي ادبي ټولنه مردان

0312-9818511

Ketabton.com

# بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم
# وصلی اللّٰه تعالیٰ علی النّبی الامّی

..............................

## حمد باری تعالیٰ

شریك نه لری اَللّٰه
داسي ذات هغه یکتا

په صفت چي لَمْ یَلِدْ دے
لَمْ یُولَدْ دے په دُنیا

په صمد څکه یادیږی
نه په چا لری پروا

هر مشکل کښي مددګار
په نامه مشکل کشا

ورته لاس نیولي مونږ
له هغه کوُو دُعا

نه مشیر ئي ، نه وزیر
داسي هغه دے باچا

دَ اسمان زمکي مالك

ناشر: اسلامی ادبی ټولنه مردان 0312-9818511

داسي ربَ هغه اعلا

هر طرف ته زمونږ مل

مستحق دَ هر ثنا

په رحمٰن رحيم پسي

د رازق صفت ئي بيا

په احمد پوره قادر

قادر هغه په هرچا

.......................................

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

آقا ﷺ چي ستا له مخ رڼا راغله

دَ سکون هرخواته هوا راغله

تياري په منډه دَ ظلمت شوي تولي

ختمي تيري دَ ضلالت شوي تولي

آقا ﷺ چي ستا حقه وينا راغله

دَ سکون هرخواته هوا راغله

جوړ دَ سکون دَ اطمينان ماحول شو

ښه قدرمنده ، عاليشان ماحول شو

خوشبو خوشبو چي ستا له خوا راغله



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ سکون هر خواته هوا راغله

مات شول بُتان ټول دَعرب په زمکه

عام شو امان ټول دَ عرب په زمکه

په دوی چي ستا توجو بیا راغله

دَ سکون هر خواته هوا راغله

عام شو برکت احمده! هلته کښي بیا

ښائسته حسینه ورسره شوه دُنیا

یو تبدیلی په پاس فضا راغله

دَ سکون هر خواته هوا راغله

..........................................

## زما اسکول زما کور

زما اسکول بل زما کور دے

ځائي دَ امن په هر لور دے

یو په کښي ښکلي میدان دے

یو دفتر ښهٔ عالیشان دے

دَ ګیټ رنګ ئي پیکه تور دے

زما اسکول بل زما کور دے

په چمن ښکلي حسین دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشبودار ځائي بهترين دے
ما سره په کلاس کښي ورور دے
زما اسکول بل زما کور دے

دَ ماما ځوئي راسره دے
دَ کاکا ځوئي راسره دے
تعداد ډير دے ځکه شور دے
زما اسکول بل زما کور دے

لس نه زياتي ئي کمري دي
ښي ئي ښکلي دروازي دي
حُسن زيات په دغي نُور دے
زما اسکول بل زما کور دے

افسران چي راشي دلته
مشران چي راشي دلته
دَ هغوی دَ زړه ټکور دے
زما اسکول بل زما کور دے

ښۀ قابل ئي اُستاذان دي
مينه ناك دا مشران دي
دَ هرچا دَ سترګو تور دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما اسکول بل زما کور دے

دا صفا ستهره مدام وی

که سحروی که ماښام وی

په سبق ورسره زور دے

زما اسکول بل زما کور دے

څنګ چې خوښ احمده! ستا دے

دا سې خوښ دا د هر چا دے

خوښ دا اسکول مې د پلار مور دے

زما اسکول بل زما کور دے

..........................................

## وختونه دَ سکول

وختونه هغه تیر شو چې په لاسو کښې تختۍ وه

دَ چت هغه دَ ګل چې په سر کړي مونږ توپۍ وه

جامې دَ ملیشې یا دَ ویلې وې تکې توري

په مونږه پابندي وه چې اچولے وے مونږ نوري

بسته زمونږه جوړه دَ کپړې نه به هرخوا وه

نقشته د نن حالاتو نه پوره پوره جدا وه

اخستې به مونږ ځان له یو سلیټ او سلیټې وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



قلم به راسره د هغې وخت ښۀ قیمتی وو
سیی به وه ، دوات به وو ، زمونږه په بسته کښې
داسکول به وو زمونږ سره نژدې په محله کښې
په سکول کښې په ټاټونو باندې ناسته به مدام وه
ښه ښکلې په ترتیب سره دا ناسته به تمام وه
دَ سکول کچه کمره کښې راسره به ناست اُستاذ وو
بهر په برآمده کښې راسره به ناست اُستاذ وو
راغونډه په کپړه کښې به مونږ سره یو روټې وه
هر خوا ته ارزانی وه راسره به یو روپې وه
پیسې به مونږ اخستې وے له پلار نه یا له مور نه
په ناز او په نخره به مونږ راغلے وو له کور نه
دا لارې به کچه وے ، سړکونه پاخه نۀ وو
لختی دا ټول کچه وو ، دا نهرونه پاخه نۀ وو
تادې مدام په ټولو به هر وختې دَ چټې وه
زورنده به دیوال ته یا یو وُنې ته ټلې وه
دَ سکول احمده ! څومره ښکلې دا زمونږ نقشته وه
دَ ناستې ، دَ ولاړې هغه وخت څومره مزه وه

...................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# متضاد( التپه) تکی

چې دَ بل لفظ سره وی مقابله کښې
ورته لفظ متضاد وايه په جمله کښې
څنګ دَامن چې اُلتپه تکې فساد دے
داسې زمکه دَ اسمان تل متضاد دے
متضاد تکی نور ياد کړه وړوړ او خوږ
څنګ چې تکی متضاد شته سپين او تور
ورځ دَ شپې مدام راځی مقابله کښې
غټ ، وړوکې ياد ساتېمدام جمله کښې
متضاد تکې حيوان دَ هرانسان دے
څنګ چې ګران سره يوځائې تکې ارزان دے
زما ، ستا ، تياره ، رڼا تول متضاد دی
هر دا نا ته مثالونه دغه ياد دی
ما احمد څه لږ ليکلی چې اسان شی
بنه اسان راته سبق چې دَ ژوند ګران شی

.....................................

.....................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دُعا

دَ علم په رڼا زړهٔ زما رڼا کړي
تیارهٔ ورکه ورسره مې دَ دُنیا کړي

رَبّه! اُوساتې مونږ تل له بربادي نه
محروم نهٔ کړې مونږه تل له خوشحالي نه

راته معاف هر یو ګناه هر یو خطا کړي
مرتبه را له اُوچته خدایه را کړي

ښه په شوق رَبّه! مدام ستا عبادت کړم
پابندي ستا دَ نبي دَ شریعت کړم

زنګ له زړه نه مې مولا! پوره صفا کړي
په خپل عشق کښې رَبّه! ته ئې مبتلا کړي

نور څه نهٔ وي بې له مینې زما زړهٔ کښې
زهٔ په تا نظر ساتم رَبّه! هر څهٔ کښې

ښه دَ ګټې زما هر یوه سودا کړي
پوره پوره ما محفوظ له هر بلا کړي

دا دُعا نن دَ احمد په هر قدم ده
رَبّه! تا نه دهٔ غوښتلې په عجم ده

خدایه نهٔ دي وي چې هغه بې وفا کړي

مولا! بچ ئي ته دَ خلقو له خندا کړي

.................................

## ماشومان او لوبي

شورو لوبي په ميدان دی
دا چي جمع ماشومان دی
يو طرف ته جينکي دی
بل طرف ته هلکان دی
دا بچی زمونږ دَ قوم دی
شريفان دی ځه لږوران دی
دَ هرچا جُدا عادت دے
دوی پوهول کله اسان دی؟
چي را جمع شی په کلاس کښي
بيا خبر کله ځان دی
ځومره ښکلی دی احمده!
دا واړه واړه ګلان دی

.........................

.............

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پولیس محافظ دَ اُولس

خدمتګار چې دَ اولس دی
دا دَ پښتونخوا پولیس دی
دَ ملت خوکیداران دی
دا دَ قوم محافظان دی

مجرمان له دوی کړي یره
شیطانان له دوی کړي یره
چې ئې چرته کښې تانه وي
نه بیا شوکه، نه ډاکه وي

نۀ د دوی کار کښې غفلت وي
بیج پـه دوی سره عزت وي
له هیچا نه نۀ یریږي
په خپل قوم ډیر خفه کیږي

کۀ سپاهی کۀ حولدار دے
دَ تانې کۀ تانړدار دے
ډی ایس پی دے کۀ ایس پی دے
غیرت مند هر ډی آئی جی دے

چې قانون کله ماتیږي

ورسره دوی خفه کیږی
جوړول امن او امان
دَ دوی کار دے په جهان
حفاظت دَ کلی ښار
مدام دلته دَ دوی کار
دا زمونږ دَ قوم ځوانان دي
شه احمده ! دَ مردان دي

.......................

## زمونږ دَ کلي ډاکټر

زمونږ کلی کښې ډاکټر دے
ډیر قابله دے ماهر دے
یو ئي نرسه ده کلینك کښې
خدا ترسه په کلینك کښې
ورسره یو کمپوډر دے
زمونږ کلی کښې ډاکټر دے
ښه په غور معاینه کړي
ورله بیا جوړه نسخه کړي
دَ کمري ئي جُدا وَر دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ کلي کښي ډاکټر دے
نارينو له ځائي جدا دے
زنانو له ځائي جُدا دے
دا تقسيم ښۀ په هنر دے
زمونږ کلي کښي ډاکټر دے
هر مريض په غور ګوري
مريضان دي دَ هر لوري
هر غريب ئي دَ زړۀ سر دے
زمونږ کلي کښي ډاکټر دے
ورته رش ځکه جوړيږي
خلق دوی سره رغيږي
ډير ئي لاسو کښي اثر دے
زمونږ کلي کښي ډاکټر دے
تل ئي کار علاج دَ خلقو
ښه ګفتار علاج دَ خلقو
حيرانك ، ښه دروند نظر دے
زمونږ کلي کښي ډاکټر دے
هسپتال کښي ئي ډيوټي شته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وارډ په حال کښي ئي ډيوټي شته
زوړ سرکار سره نوکر دے
زمونږ کلي کښي ډاکټر دے

مشران ورته دُعا کړي
خدمت څکه دَ هرچا کړي
نوم ئي پاس ، ښه معتبر دے
زمونږ کلي کښي ډاکټر دے

خوئي ئي ډير دَ عاجزانو
خوښ دَ ټولو مشرانو
سکيل اُوچت لري افسر دے
زمونږ کلي کښي ډاکټر دے

ربّ عزت ورله ورکړے
شرافت ورله ورکړے
دَ هرچا خپل مقدر دے
زمونږ کلي کښي ډاکټر دے

مونږ له څي چي دَ مونږ وخت شي
بيدار دي سره ئي بخت شي
ښـة عادت ئي په هر در دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ کلی کښې ډاکټر دے
خوښ احمده ! ستا په دې دے
ورته خپل پردې نزدې دے
هر یو ده ته برابر دے
زمونږ کلی کښې ډاکټر دے

..............................................................

## ډاکي

تل چلیږی په اُصولو
دا ډاکی زمونږ د تولو
که خطونه دا زمونږ دی
که څیزونه دا زمونږ دی
مقرر په تقسیمولو
دا ډاکی زمونږ د تولو
د هرچا ورته نظروی
څه به نوي بل خبروی
خوښ د لویو د همځولو
دا ډاکی زمونږ د تولو
دا زمونږ د کلی کس دے

کار کوی چې څه ئې وس دے
مقرر دے په خورولو
دا ډاکی زمونږ د ټولو

دۀ سره منی اړېږي
دي ډيوټې کړی لري
بل کړۀ ستړي په پوهولو
دا ډاکی زمونږ د ټولو

پياده ګرځی کلی ښار کښې
پېژنی ئې خلق لار کښې
په تيلي دي په ګرځولو
دا ډاکی زمونږ د ټولو

ملازم د حکومت دے
غټ احمده ! دا خدمت دے
کوی کار چې وی د کولو
دا ډاکی زمونږ د ټولو

.....................................

..............................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوني/ اروڼه

........................................

## سیوري

خپــــي ئــــي نشتــــــه دے روان دے
څـــنګ پـــــه څـــنګ دَ هـــرانســـان دے
نـــمـــر چـــي کـــلـــه راښـــکـــاره شـــي
بیـــا ئـــي هـــلــــه نـــظـــاره شـــي

........................................

## کشتي

ژونـــد ئـــي ګـــران بـــي لـــه اُوبـــو نـــه
دا جـــوړيـــــږي دَ لـــرګـــو نـــــه
دا ســـورلـــي زمـــونـــږ دَ ټـــولـــو
مـــزه دا کـــړي پـــــه چـــلـــولـــو

........................................

................

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بينډي

اول تکي په کښي بي ده
سبزي ښکلي د مزي ده
مينغ کښي سپيني ئي داني دي
دائي نخي د ځواني دي

.....................................

## متير

پټ ځادر کښي بيلوري دی
هغه شنه ددي پتهی دی
په آغاز کښي ښکاره ميم دے
په آواز کښي ښکاره ميم دے

.....................................

## کټ

دَ بدن ئي ځلور خپي
مدام دي به ګرځوي
په کښي ملاسته کوُو مونږ
په کښي ناسته کوُو مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کتاب

دا خاموش مدام اُستاذ
دَ هر خاص او عام اُستاذ
یو بنډل دَ کاغذونو
ګلدسته دَ سبقونو

.......................................

## چهتري

یا غوټې وي یا سم ګل شی
ستا اَمسا شي یا دَ بل شی
چت محفوظ له هر باران نه
ما اخستې له دُکان نه

.......................................

## ګلاب جامن

دَ ګل نوم، نوم دَ میوې دے
نوم ئې خپل دے هم پردې دے
دغه یو نوم دوه نومونه
نه دي ګل، نه دی ګلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ګولۍ

چې په خُلهٔ کښې وی خوراك دے
چې په تن لګی هلاك دے
په یو نوم دی دوه څیزونه
رابښکاره کړه پټ رازونه

.................................

## کاشوغه(چمچ)

هیڅ څه نهٔ خوری هغه خپله
په بل دي خوری له ازله
دي په خپله حرکت نهٔ کړی
په خوراك هغه به څهٔ کړی

.................................

## نمر

یو ډیوه رڼا
مره به نه شی په هوا
ډیري نري دی دا یوه ده
ددي هر چا ته فائده ده

## ویختۀ

نه ئي تخم ته حاجت
تور ئي رنګ دے هر ساعت
دَ انسان په سر مدام وي
بسۀ نرے نرے تمام وي

..................................

## خوب

چې بيدار ئي نو بيا نۀ وي
چې اُودۀ شے هغه بسۀ وي
چې اُودۀ شے په نظر وي
پټ له ويخ نه په هر در وي

..................................

## عقل

بې له دۀ نه کله کار زمونږه سَم وي
ليوني به دا عَالم په هر قدم وي
دَ انسان سره موجود د هغه سر کښې
دا به نۀ ويني انسانه ! څناور کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سيړهی

دَ دويم چت بڼه لنډه لار
بره ځم په دي بار بار
لاندي، باندي هم پرته
دا دخه شوله نقشه

................................

## قسم

کۀ تۀ خوري ئي خوراك نۀ دے
خوری ئي هغه چي ئي زړۀ دے
نۀ ئي تن شته نۀ صورت
بيا هم غواړی عدالت

................................

## پان

اول خوری ئي ټول په مينه
بيا له خلي غُرځوی وينه
په يو پاڼه کښي ټول بند دے
دا خوراك دے، خو ټول ګند دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بلب

دَ شیشـــــــي پــــوره بــــنــــد کــــور
څــــه ښيـــزونـــــه پــــه کښـــي نــور
رنـــــــاګـــــــانـــــي خـــــوروی دا
داســــــي دلتـــــــــه قيــــــمتـــــی دا

................................

# مولي

سپيــــن وجـــود پـــــانـــي پـــــه ســــر
دا خـــــــــوراك دَ هــــــــــــربشــــــــر
پـــټ پــــه زمـــکـــــه کښـــي ئــي تــن وی
پـــټ وجـــود ئــــي پــــــه کــــفــــن وی

................................

# بانګی

هـــــر ســــحـــــر مــــونـــــږ پــــــاڅـــوی
شـــور کــــــړی جــــوړ، چــــغـــــي وهــــی
مــدام خـــوری زمـــونـــږ پــــه کــور کښـــي
اُویـــــه څـــکـــی زمـــونـــږ پــــه کــور کښـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# باغيچه

تل په تن لرى ګلونه
بېل جُدا لرى نومونه
شين ځادر، خوشبو خوشبو
راته وايه دا څۀ شو؟

..............................

# سترګه

چې دا سترګه شى برېښناه
بره دغه په اسمان کښې
وروى په جون کښې اور
تنکوى سرې سرتور

..............................

# پشکالي

هغه څۀ دى چې اُورېږى
تل په ختهه کښې اُوسېږى
تل په خاورو باندې پائى
ورته دلته کښې څۀ وائى

(c) ketabton.com: The Digital Library



# آسمان

بــــــره بــــــره پــــــــه جهـــــــان
ســــــم دَ چــــــت ســــــره پــــوشـــــان
ورتـــــــــه ستـــــن نــــــه ديـــوالـــونــــــه
ښـــکــــــاره وويـــنـــــی هــــــر انســـــان

.............................

# چرګه

دَ اګــــــــــــو څيـــــــــــــــز دے دَ کــــــــــور
رنګ پــــــــه رنګ شتــــــــه سپيــــن او تـــور
پــــــــه کښـــــي تهــول هـــــرخــوا نـــــران
وائــــــی بــــــانګ پـــــه ښـکـــلـــي شــــان

.............................

# دُنیا

غــــــونــــــډه مـــــونــــــډه پــــــــه صـــــورت ده
دَ خپـــــو لانــــــدي هــــــر ســــــــاعــــــت ده
وائـــــــی خــــــــلــــــق ســـــم اګــــــــي ده
ډيــــــره زيــــــاتــــــه پـــــخـــــوانـــــي ده

# جمات

دا پـه چـت لـرې میـنـار
دَ مـونـغ ځـائـي دَ مـونـغ ګـوزار
پـه کښـي تـول وایـو بـانـګـونـه
مـونـږ کـوُو اعتـکـافـونـه

........................

# تنور / انغري

چـي بـلیـږي پـه اُور
ضـرورت وی دَ کـور
خـلـۀ ئـي وازه تـوربـدن
وایـه جـوړ شـولـونـن

............................

# کتاب

پـه بستـه کښـي دَ هـرچـا
مـدام اُوسـی ستـا، زمـا
نـۀ ئـي ژبـه، نـۀ ئـي خـت
بیـا هـم ښـه ښـکـاره ګـویـا

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وخت

هره شپه او ورځ بېداره
نهٔ اُودرېږي چا دَ پاره
قابو نهٔ کړه يو سلطان
ځي په خپله لاره روان

.......................

## ټائم پيس (ګړي)

دا دَ دري ستنو جوړ کور
وخت په دوی مدام وی سور
لري دولس دا حصي
څه منټونه ، څهٔ ګهينټي

..................................

## موبائل فون

انسان چي کړي خبرے
ورسره کړي ځان ملګرے
په بيټري هغه ژوندی دے
يو دَ جيب شکلي ډبي دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



## موم بتی

اُور چې بَل کړې په خپل تن
دا چې ویلې کړې بدن
دَ رڼا ښه ذریعه ده
دَ رڼا ښه وسیله ده

.............................

## بلډنګ

ډېر کورونه په قطار
یو دَ بل دَ پاسه بار
په نقشه پوره تیار
ملاوېږي په هر ښار

.............................

## شعر

دَ معنې ډکه جمله
تل په وزن ښه پوره
کله کله شي غزل
لري ډېر رنګونه خپل

# پکې

دا هوا کوی تاوېږی
چې بجلی نه وی اُودرېږی
پاس په زمکه یا په چت
تل دَ خلقو کړی خدمت

................................

# باران

سپین او تور څادر په سر
خپر څادر ته کړه نظر
ورسره وی آوازونه
وروی دا بارانونه

................................

# اُوبهٔ

په سیندونو په دریاب کښې
په کوهی، چینې، سیلاب کښې
دا خوږې، تروې به څهٔ وی؟
دَ هوښیار سر کښې مازغهٔ وی



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دَ جنازې مونځ

تکبیرات په کښې څلور
یوشان وائی سپین او تور
ثنا بیا درود، دُعا
سنت دري په کښې هرخوا

................................

## قرآن کریم

ټولي دیریش دی سپاري
دَ اخر دي تیاري
دَ اللّٰه عظیم کتاب
ښه کامل پوره نصاب

................................

## مالګه

کاني مونږ کره دَ غر دے
میده شوي په هنر دے
تل خوراك ئي دے په مینه
رنګ کښي خړه، رنګ کښي سپینه

## هوا

شته هر خوا ته په جهان
محتاج دي ته هر انسان
نه ښکارېږې په صورت
هر حيوان ته ضرورت

................................

## کټ

بون، له پټي نه تيار
ملاسته، ناستي له پکار
ولاړ هغه په ځلورو
ضرورت هغه د نورو

................................

## خاپيرك

توره شپه کښي ورته ښکاري
هر حصه کښي ورته ښکاري
په رڼا ورځ باندي ړوند شي
نه الوځي، تن ئي دروند شي

# خر

پرواه نه لری دَ کار
ورته نۀ وائی هوښيار
سخت آواز ئي، بوج په ملا
جوړ شو کوم ځناور دا؟

.....................................

# مرچکي

چي دا سره په خلۀ شی
خواږه تا سره تراخۀ شی
شين او سور دۀ وی رنګ
دَ سبزو سره په څنګ

.....................................

# زمري

غار دَ غرونو زما کور
رنګ ئي خړ دے په هر لور
تخت مې نيشته خو باچا يم
داسې څۀ ددي دُنيا يم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## باز

ځائي مي غرونه دَ غر سر
پاس يم پټ له هر نظر
زهٔ خوشحاله يم هوا کښي
بره بره پاس فضا کښي

.....................................

## انار

مينغ کښي ټول داني
بيا په مينغ کښي ئي پردي
سور ئي رنګ، ښه مزيدار
تاج په سر ئي دَ سردار

.....................................

## پياز / سلاد

يو دَ بل دَ پاسه پټ
هغه خپل دَ پاسه پټ
ټول پټونه دا پردي
عام ئي دلته کښي کري

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غنم

سړی ئې تل دَ دي انسان
تن ئې تل دے دَ حیوان
خلق پېژني دا عام
تل لائق دَ احترام

.....................................

## شیشه(آئینه)

تا ته ستا صورت ښکاره کړي
ما ته دا صورت ښکاره کړي
دَ نائي سره دُکان کښې
شته دے دا په هر مکان کښې

.....................................

## ږمونز

ډېري خپي ئې دَ بدن دي
لوئې، وړي ښکلي په تن دي
په ویښتو کښې خپې رواني
قدرمنده! قدرداني

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جارو

دَ یو خو ډکو بنډل
ګند ئي کار راټولوُل
هغه کور کښي خامخا وی
چي کچه کور د دُنیا وی

.....................................

## لوډ سپیکر

وره خله، او تیز آواز
نۀ څه پاتي شی دَراز
رنګ په رنګ لری شکلونه
خبروی کلی ښارونه

.....................................

## سائیکل

نۀ ئي تیلو ته حاجت
نه پټرولو ته حاجت
دوه پائي تول ه ډندي
پاس په تیر باندي چمتهي

# تاله

بنده دي کړه دروازه
بنده دي سره کمره
هر صندوق ورسره بند
پيژني ئي عقل مند

........................................

# ګلاب

په ګلونو کښي سردار
شان دَ هر چمن ګلزار
دَ حُسن ښۀ علامت
عام ورسره محبت

........................................

# دَ جمعة المبارك ورځ

ده په ورځو کښي اوچته
نوري ورځي لاندي خکته
ډير ئي قدر مسلمان کړي
دير ئي قدر دا جهان کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

.....................................

## رمضان المبارك

دولـــــــس میـــــــاشتـــو کښـــي ده غـــوره
ده پـــــــــه تـــولـــو کښــــي بهتـــــره
شپـــــــــه دَ قـــدر پـــــــه کښـــي پټــــــه
ښـــــــه دَ قـــدر پــــــه کښـــي پټــــــه

......................................

.................

تمت بحمد اللّٰه وبتوفیقهٖ
وصلی اللّٰه تعالیٰ علیٰ خیر خلقهٖ
محمد واٰله واصحابهٖ اجمعین.
آمین یاربّ العالمین

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**